دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

اونیزه

شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

الهی فرمان

منافقان تګي کوي له الله سره، او الله سزا ورکوونکی دی دوی ته (ددوی د تګی په سبب) هر کله چې پاځیږي دغه منافقان لمانځه ته نو پاځیږي سست کاهلان، ښئ دوی خلکو ته خپل خانونه چې مونږ هم مسلمانان یو، او نه یادوي دوی الله مگر لږ، د ځان ښودلو په خاطر. دوی متردد دي په منځ د ایمان او کفر کې، (نه بیخي له مؤمنانو سره دي او نه بیخي له کفارو سره) او الله چې څوک گمراه کړي نو له سره به ونه مومې ته، هغه لپاره د حق لاره. (النساء، ۱۴۲ - ۱۴۳)

نبوي ارشاد

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: پر هغه ذات مې قسم چې دهغه په قبضه کې زما روح دی، تاسې به خامخا خلکو ته د نیکی حکم کوئ او له بدو کارونو څخه به منع کوئ، د کم عقلو لاسونه به نیسئ چې هغوی پر چا تيرې ونه کړي، او د حق په لوری به اړوئ که نه الله تعالی به ستاسی د خینو خلکو له کبله ستاسی د نورو خلکو زړونه هم مره کوي، بیا به پر تاسو داسې لعنت کوي لکه څنګه چې د بني اسرائیلو پر خلکو یې لعنت کړې و. (ابو داود، ترمذي)

شهادت   دویم کال، ۲۸ مه گنه، چهارشنبه ۱۳۸۹ هـ ل د زمری ۷ مه   د۱۴۳۱ هـ ق د شعبان المعظم ۱۲ مه   د ۲۰۱۰ م د جولای۲۸ مه

وحید عمر:

در مورد اسناد افشا شدهء استخباراتی تحقیق می کنیم

کابل، رسانه ها:

به دنبال افشای ده ها هزار سند محرم استخباراتی در خصوص جنگ افغانستان و دست داشتن پاکستان در این روند، دولت افغانستان اعلان کرده است که در مورد این اسناد تحقیقات جدی را انجام خواهد داد.

وحید عمر سخنگوی رییس جمهور کرزی به روز دوشنبه در کابل به خبرنگاران گفت که افشای این اسناد منبع خوب برای آگاهی یافتن از مسایل است و می تواند پس از تحقیقات که به فرصت زیاد نیز نیاز دارد، موضوعات زیادی را نیز افشا کند.

آقای عمر به ادامه افزود:

((هنوز هم این معلومات تحت مطالعهء ما قرار دارد، معلومات فوق العاده زیاد است و قبل از وقت است که بسیار به تفصیل به ارتباط آن صحبت کنیم.

نشر این اسناد در قسمت توسعهء آگاهی همهء ما به ارتباط این که رسیدن صلح و ثبات به افغانستان وقتی ممکن است که به مراکز تربیه، تجهیز و تمویل تروریستان رسیده گی شود.))

سخنگوی رییس جمهور کرزی هم چنان گفت که در این اسناد مسایل زیاد در مورد تلفات افراد ملکی و چگونه گی وقوع آن نیز افشا شده است.

گروه "ویکی لیکس" به تازه گی ۹۱ هزار سند محرم را در مورد جنگ افغانستان و دخیل بودن سازمان استخبارات پاکستان در کمک به مخالفین افشا کرده است.

در این اسناد به مسایل مهم نیز اشاره شده است که نشان می دهد سازمان استخبارات پاکستان با استفاده از کمک های که برای مبارزه با تروریزم به آن کشور صورت گرفته است، به تقویت گروه های تروریستی به خصوص طالبان مسلح استفاده کرده است.

وحید عمر گفت که آنان مسایل وابسته به موجودیت پناه گاه ها و کمپ های آموزش تروریستان را که در پاکستان قرار دارد، با جامعه جهانی به خصوص ایالات متحده در میان گذاشته اند. .....

بقیه در صفحه ۴

ویکي لیکس پر خپرو شویو اسنادو د بېلابېلو خواوو عکس العملونه

تاند ویب پاڼه:

د پاکستان عکس العمل:

پاکستان نن د ویکي لیکس دا راپور رد کړ چې وايي پاکستان په افغانستان کې د نړیوالو او افغان ځواکونو پر خلاف په جګړه کې د افغان طالبانو ملاتړ کړی دی.

په واشنګټن کې د پاکستان سفیر حسین حقاني وویل چې دا راپور له هغو حقایقو سره په تضاد کې دی چې همدا اوس په سیمه کې عملاً

پاتې ٤ مخ

په افغانستان کې تاوتریخوالی مخ په زیاتېدو دی "مولن"

تاند:

د امریکا لوی درستیز په افغانستان کې وویل چې په نژدې راتلونکي کې به تاوترخوالي لا زیات شي خو د راتلونکې څو میاشتې به ډېرې مهمې وي.

مولن دا څرګندونې په داسې حال کې کړې چې په امریکا کې یو لړ پټو اسنادو څرګنده کړه چې پاکستان د امریکا له مرستو سره سره د وسله والو طالبانو کلکه مرسته کړې ده.

سره له دې چې ولسمشر بارک اوباما افغانستان ته شاوخوا دېرش زره نور سرتېري لېږلي، تاوتریخوالي په تېرو نهو کلونو کې تر بل هروخت زیات شوي.

د امریکا لوی درستیز مایک مولن، چې په افغانستان کې دی،په لوګر ولایت کې د دوو امریکایي پوځیانو بې درکی ته په اشارې وویل چې د تشدد پېښې به لا زیاتې شي خو د

پاتې ٤ مخ

رأی خرخول، ایمان خرڅول دي

دریم مخ

افغانستان د نړیوالو ورځپاڼو په هنداره کې

واشنګټن پوسټ د افغانستان او سیمو په اړه بېلابېل مطالب او تحلیلونه خپاره کړي چې لنډیز یې د شهادت درنو لوستونکو ته وړاندې کوو.

واشنګټن پوسټ:

واشنګټن پوسټ ورځپاڼې په خپله وروستی ګڼه کې د افغانستان په اړه یوه تحلیلي لیکنه کې د هلمند ولایت د دوو سیمو ناوې او مارجې ولسوالیو وضعیت پرتله کړی.

واشنګټن پوسټ لیکي، په ناوې ولسوالی کې د ترورېزم په وړاندې د جګړې د ستراتیژۍ له کبله وضعیت داسې بدل شو، چې زیاتو خلکو ته معجزه ښکاري.

د ورځپاڼې په باور: زیات طالبان له سیمې وتلو ته مجبوره شول، د ولسوالی مرکز ارام ښکاري، د امریکا سمندري ځواکونه شاوخوا له زغروالو واسکټونو او محافظتي خولیو پرته ګرځي، د سیمې په کچه اقتصاد هم د ودې په حال کې دی، څکه امریکا له کروندګرو سره څه باندې ۱۰ ملیونه ډالره مرسته کړې او د بل هر وخت په پرتله د ولسوالی بازار له خلکو ډک ښکاري.

ورځپاڼه زیاتوي: د ناوې په بازار کې زیاتې سوداوې کېږي، چینايي موټرسایکلونه او موبایل ټیلیفونونه په کې خرڅېږي، د دغو نوېو شیانو څلا ستر ګې برېښوي، هلته ان د ایسکریمو یو دکان هم شته.

واشنګټن پوسټ لیکي، که په ناوې کې دغه وضعیت دی، په څنګلورې ولسوالی مارجې کې، چې د ترورېزم په وړاندې د جګړې ستراتیژی د سخت دریځو د خپرېدو ستونزه نه ده په کې ختمه کړې- وضعیت بل ډول دی.

واشنګټن پوسټ وايي، په لسګونو طالبان اوس هم په سیمه کې شته، د امریکا د سمندري ځواکونو له سترو عملیاتو وروسته هم چې هدف یې د دغو وسلوالو ختمول وو، د ورځپاڼې په وینا، طالبان اوس هم پر سړکونو ماینونه ښخوي او پر ګزمو ډزې کوي.

په سیمه کې د وسلوالو دغة حضور د ملکیانو د مرستې او ساتنې هڅې شنډې کړي دي.

همدې ورځپاڼې په یوه بل مطلب کې د

پاتې ٤ مخ

بریتانیا د کابل کنفرانس له پریکړو ملاتړ کوي

کابل رسنی:

په افغانستان کې د بریتانیې سفیر وایي چې د کابل په نړېوال کنفرانس کې له شوو پریکړو دوی ملاتړ کوي او د نړېوالو مرستو د لګښت او افغان ځواکونو ته د امنیتي مسوولیتونو د سپارلو له طرحې نه دوی له افغان حکومت سره موافق دي. په کابل کې د بریتانیې سفیر ویلیم پیټي د سې شنبې په ورځ خبریالانو ته وویل چې افغان حکومت اوس د مرستو د لګولو توان پیدا کړی او افغان ځواکونه به هم تردوه زره څوارلسم میلادي کاله پورې د دې جوګه شي چې له خپل هېواد څخه په بشپړه توګه دفاع وکړي.

وروسته ترهغې چې د کابل د نړېوال کنفرانس له پریکړو څخه بېلابېلو هېوادونو ملاتړ څرګند کړ په کابل کې د بریتانیې سفیر وایي چې افغان حکومت اوس د دې جوګه شوی چې د بیارغونې په برخه کې د نړېوالو مرستو په سلو کې پنځوس ولګوي.

پاتې ٤ مخ

نقش کشورهای اسلامی در اطفای بحران افغانستان

صفحه دوم

شرکت های خصوصی از انتقال زایرین حج محروم مانده اند "حقجو"

کابل، رسانه ها:

محمد قربان حقجو رییس هیات عامل اتاق تجارت و صنایع افغانستان

در حالی که روند ثبت نام افغان های که می خواهند امسال غرض ادای فریضهء حج به عربستان سعودی بروند در افغانستان ادامه دارد، اتاق تجارت و صنایع این کشور می گوید که شرکت های خصوصی در سال جاری از انتقال زایرین حج محروم مانده اند.

محمد قربان حقجو رییس هیات عامل اتاق تجارت و صنایع افغانستان که به روز دوشنبه در جمع از مسوولان برخی از شرکت های خصوصی سیاحتی و هوایی در کابل صحبت می کرد، با این تصمیم شورای وزیران افغانستان مخالفت کرد که مسوولیت انتقال زایران حج را به شرکت هوایی آریانا تفویض کرده است.

وی افزود که حمایت از یک شرکت دولتی

بقیه در صفحه ۴

PROPERTY OF ACKU

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

ګاونډیان دې خپل استحکام د افغانستان په استحکام کې ولټوي

پاکستانی او ایراني چارواکي هر وخت دا څرګندونې کوي چې هغوی یو مضبوط او مستحکم افغانستان د خپلو هېوادو په ګټه بولي او کوښښ کوي چې په افغانستان کې د استحکام او سلامتي فضاء قائمه شي.

دا هغه څرګندونې دي چې د څو لسیزو راهیسې د دواړو ګاونډیو هېوادو له خولې په وار وار آورو خو د عمل په ډګر هغه څه نه تر سترګو کیږي چې هغوی یې وایي.

هغه وینا خوند کوي چې عمل ورسره وي، کومه وینا چې عملي بڼه ونه لري هغه تش د خولې ډوزې وي او بس. کاش چې ددغو ویناګانو ترڅنګ عملي بڼه هم تر سترګو شوې وای او د ګفتار ترڅنګ مو د عمل خوږه هم لیدلې وای.

وینا تر هغه صدق نه پیدا کوي تر څو چې د عمل په ډګر کې تطبیق نه شي، دداسې ویناګانو مثال داسې دی لکه چې یو جل وهلې تږي سړي ته څوک د لیمو د یخ شربت جګ ښکاره کړي او ورته وایي دا مې تاته راوړې مګر څکلو لپاره یې ورنه کړی. موږ افغانان د امن، ثبات او استحکام تږي یو، د نړۍ هر هېواد، په ځانګړې توګه ګاونډیانو ته مو هر وخت د انتظار سترګې نیولي دي چې په دې لاره کې له موږ سره مرستی وکړي او د خپل ګاونډیتوب اسلامي مسؤولیت ترسره کړي، خو ډېر افسوس چې له تشو تسلیو پرته یې تراوسه داسې کوم ګام یې نه دی اوچت کړی چې په افغانستان کې د استحکام او امن د قیام لپاره مرستندوی ثابت شي، نو ځکه افغانان د هغوی په ویناګانو هیڅ ډول باور نه کوي او دا د هغوی زړې بابولالې بولي.

د تېرې سه شنبې په ورځ د کابل په نړۍ وال کنفرانس کې د پاکستان او ایران د باندنیو چارو وزیرانو هر یو شاه محمود قریشي او منوچهر متکي یو ځل بیا خپل زوړ سبق تکرار کړ او ژمنه یې وکړه چې موږ به په افغانستان کې د امن او سلامتي د قیام له پاره به خپلې هلې ځلې ونه سمپوو، ځکه چې یو با ثباته او مستحکم افغانستان د ګاونډیانو په ګټه دی.

دهغوی له دې څرګندونو نه معلومیږي چې له ډېر پخوا نه یې اصل حقیقت پېژندلې دی او په دې واقعیت ښه پوه دي چې یو مضبوط او مستحکم افغانستان د هغوی په ګټه دی مګر دا چې د پوهې سره سره بیا هم د عملي ګامونو له اوچتولو ډډه کوي او په افغانستان کې د امن او استحکام د راوستلو په لاره کې خپل مسؤولیت نه ترسره کوي دهغوی په زړونو کې د پټې خیرې په شتون دلالت کوي، د مشکل په وخت کې خو مضبوط افغانستان د خپلو ځانو په ګټه بولي مګر د فرصت او غنیمت په وخت کې دهغوی رجحان داوي چې افغانستان پخپلو پښو ونه دریږي، دهغوی تر قوماندې لاندې ژوند تیر کړي او د خپلو ګټو او مقاصدو لپاره یې استعمال کړي، ځکه خو د پاکستان او ایران ترڅنګ هندوستان هم په افغانستان کې د خپلو ګټو جنګ ته بډې وهلې دي او په شړمبو کې د مچ په شان ځان غورځوي. که واقعاً هغوی پخپل څنګ کې یو مضبوط او مستحکم افغانستان منلې شوای نو افغانستان به لاپخوا نه دغه هدف ترلاسه کړی و او دا نوبت به هر ګز نه ورسیدلې چې افغانستان د بې امنې په اور کې وسوځیږي او هندوستان هم د بدامنی دغه اور ته پو کې، د بین المللي او سیمه ییزو جګړو ډګر وګرځي او پردي هېوادونه پکې د خپلو خپلو ګټو جګونه پرمخ بوځي.

زموږ ګاونډي هېوادونه دې خپل دا ګناه او قصور ومني چې د افغانستان په بې ثباتی کې ددوی لویه ونډه ده، او ددوی د ناروا رقابتونو او خپلو ناجایزو ګټو په لالچ کې افغانستان کې ناامنی او بدبختی تر دې کچه ورسیده چې د نړۍ تر ټولو لوی جنګ پکې روان دی او بې ګناه افغانان پکې خپل ژوند له لاسه ورکوي، دا ددوی د مجرمانه غفلت او بد نیتی نتیجه ده چې په افغانستان کې د بدامنی لګیدلې اور پاکستان او ایران تر ښارونو هم ورسید. اوس یواځې افغانان نه د پاکستان او ایران وګړي هم ددغه اور خوراک دي.

هغه دردونه او کړیکی چې یواځې افغانانو په ځان تیرولی اوس د پاکستان او ایران اولس هم په ځان تیروي. نو ځکه اوس ددې خبرې یقین کیږي چې شاید ګاونډي هېوادو چارواکي د یو مضبوط او مستحکم افغانستان هیله من شوی وي او دا خبره به د زړه له تل نه کوي چې با ثباته او پرامنه افغانستان دهغوی په ګټه دی.

افغانان چې له ډېر وخت نه د ناامنی او بې ثباتي په ترخه فضاء کې راګیر وو او جنګ جګړو هره شیبه دهغوی ژوند ګواښولو، له خپلو ګاونډیو هره شیبه همدا انتظار درلود چې د افغانستان د بې ثباته کولو له لوبې څخه لاس واخلي، که نیکې راسره نه شي کولې لږ تر لږه بدي خو دې راسره نه کوي. د افغانانو پرون هم همدا غوښتنه او هیله وه نن هم همدا هیله لري چې ګاونډیان د موجوده ګواښونو او حساسیتونو په نظر کې نیولو سره یو بل ته د همدردی او ګاونډیتوب تاودی غیږې ور کړي د یو بل د مرستې او لاس نیوې په خاطر دی میدان ته راوداګي، د یو بل د استحکام او غښتلتیا لپاره دې ګډې هلې ځلې وکړي، له خپلو زړونو او دماغونو څخه دې منفي سوچونه لیرې او پر ځای مثبتو سوچونو ته ځای ور کړي، د نیک نیتی نیک احساس دې راژوندی او د یو بل د بقاء او استحکام لپاره دې ګډ پلانونه پکار واچوي ځکه چې ددوی بقا او استحکام د یو بل له بقا او استحکام سره تړل شوې د افغانستان بقاء د ګاونډیانو بقا ده او د ګاونډیانو بقاء د افغانستان بقا ده، لدینه بله ښه او خوښی خبره به څه وي چې د ګاونډو هېوادو چارواکی دغه حقیقت درک او د یو بل د بقاء او استحکام لپاره د مرستې او ورورۍ لاسونه ورکړي او د غرضي هېوادو له لاسونو څخه محفوظ پاتې شي. افغانان خپلو ګاونډي هېوادونه پاکستان او ایران د هجرت دویم کور ګڼي په خوښي یې خوښ او په دردونو یې خفه کیږي نو ځکه هر افغان د زړه له تل نه غواړي چې د خپل هېواد ترڅنګ ګاونډي هېوادونه یې هم په امن کې وي تر څو له خپلو انصارو ورونو سره د ورورولی خوږ ژوند تیر کړي.

نقش کشورهای اسلامی در اطفای بحران افغانستان

اعزامی

کمیسیون بررسی اهداف ستراتیژیک پیمان اتلانتیک شمالی (ناتو) ضمن نشر آخرین گزارش خود در مورد نقش آیندۀ ناتو در افغانستان، چنین نتیجه گیری نموده است که ناتو باید از کمیت تنش های موجود در قارۀ آسیا بکاهد، زیرا ناتو یک نهاد منطقوی است نه جهانی و منابع مالی آن محدود و منوط به اولویت های دیگر می باشد و تمایلی به پذیرفتن چنان ماموریت های ندارد که کشورها و نهادهای ذینفع علاقمند انجام آن هستند. اکثریت اعضای ناتو که در افغانستان نیرو دارند، علاقمند پیوستن به آن طرح بارک اوباما اند که قرار است خروج نیروهای امریکایی از جولای ۲۰۱۱ م آغاز شود، زیرا هنوز نیروهای ناتو در افغانستان متقاضی هزینۀ هنگفت مالی است که باعث غیر اقتصادی بودن و زیان بار شدن ماموریت آنها در افغانستان گردیده و آنعده کشورهای اروپایی که منبعد توان پرداخت این هزینۀ گزاف را ندارند، در صدد اخراج نیروهای شان از کشور ما اند. یک زمانی ناتو به عنوان مجری ستراتیژی جلوگیری از گسترش نفوذ شوروی سابق عمل میکرد، اما در حال حاضر ناتو با توجه به اهداف سابقه خود دچار چالش و ابهام شده وابهت گذشته اش پس از پیاده شدن نیروهای آن سازمان به افغانستان کاهش یافته است. همزمان با انتشار همچو گزارش ها، مقامات ارشد نظامی در ایالات متحده امریکا و اروپا به این حقیقت اذعان دارند که دادن آگاهی عمومی در باره حقایق جنگ افغانستان، بطور قابل توجهی میزان حمایت های مردمی ازین جنگ را کاهش داده است. چنانچه وزیر دفاع انگلیس به این باور است که اقدامات نظامی به تنهایی برای آوردن ثبات دراز مدت در افغانستان کافی نیست و نیروهای ائتلاف به رهبری ایالات متحده امریکا در افغانستان باید با شماری از عناصر طالبان مذاکره کند.

در میان موجی ازین موضع‌گیری ها هفته گذشته آندرس فوگ راسموسن منشی عمومی ناتو از کشورهای مسلمان درخواست کرد که در آموزش نیروهای افغان و کمک مالی به دولت افغانستان سهیم بیشتری بگیرند. روزنامه الشرق الاوسط چاپ عربستان سعودی با انتشار گزارشی از جریان مصاحبۀ خبری آقای راسموسن که در مقر ناتو (بروکسل) با خبر نگاران صحبت می کرد، از کشورهای اسلامی تقاضا نمود که نقش بیشتر در اعادۀ ثبات و تربیه نیروهای امنیتی افغانستان بعهده بگیرند و به این ترتیب با نیروهای آیساف و ناتو همکاری نمایند. راسموسن موثریت کمک های کشورهای اسلامی را به افغانستان به این دلیل موجه خواند که آنها با داشتن روابط دیرینه فرهنگی و دینی با مردم افغانستان، می توانند نقش خوبتری را ایفا نمایند. به گفته راسموسن، اگر کشورهای اسلامی درین پروسه شرکت نمایند، این اقدام تاکیدی بر این موضوع خواهد بود که جنگ افغانستان، جنگ علیه اسلام نه، بلکه علیه دهشت افگنی است، منشی ناتو سهم‌گیری کشورهای مسلمان در آموزش نیروهای پولیس و اردوی ملی افغانستان را بخاطر پذیرش مسؤولیت های امنیتی مهم دانست و ایجاد این توانایی را کلید خروج نیروهای ناتو از افغانستان وانمود کرد.

راسموسن در سخنان خود از تعلل اعضای ناتو در فرستادن نیروهای بیشتر به افغانستان اشاره کرد و گفت که این کشورها به دلیل بحران اقتصادی و عدم توانایی آنها در توجیه جنگ برای ملت های شان، یکی از عوامل این کمبودی ها را به میان آورده است.

ناتو سال گذشته کار بازنگری در ستراتیژی جنگ در افغانستان را آغاز کرده واکنون کمیسیون تجدید نظر به این نتیجه رسیده که تکیۀ محض به عملیات های نظامی کافی نیست و در کنار آن به فعالیت های دیپلوماتیک و مشارکت کشورهای مسلمان در اعادۀ ثبات غرض فرونشاندن بحران تأکید نموده است. قرار است فیصلۀ نهایی کمیسیون بررسی و تجدید نظر تا ماه دسامبر اعلان گردد و یکی از مسایل تازه در ستراتیژی جدید، مشارکت کشورهای خارج از ناتو در عملیات این سازمان و تأکید بر ضرورت نقش کشورهای مسلمان در کنار ناتو خواهد بود. راسموسن در همین راستا خاطر نشان کرد. مشارکت کشورهای اسلامی و سهم‌گیری فعال آنها در تلاش برای باز گرداندن ثبات و استقرار در افغانستان به سود این کشورها و جامعه جهانی خواهد بود، بالاخص در شرایطی که برخی کشورهای اروپایی عقب نشینی از حمایت های شان را از ادامه ماموریت ناتو در افغانستان آغاز کرده اند. راسموسن تأکید کرد، من به این مسئله باور دارم که کشورهای مسلمان این مشکل را درک می کند، خروج زود هنگام نیروها، سبب ایجاد بحران بیشتر در افغانستان می شود و تروریست ها می توانند با عبور از افغانستان، ثبات کشورهای همجوار و منطقه را متزلزل سازند که این مسئله برای آینده جامعه جهانی خیلی خطرناک می باشد.

بقول منشی عمومی ناتو، همین حالا یک تعداد کشورهای اسلامی از فعالیت های تروریستی رنج میبرند و خواهان مبارزه جدی با تروریزم اند. فلهذا مشارکت آن ها در ایجاد ثبات در افغانستان خیلی ضروری است.

منشی عمومی ناتو به تأکید گفت که کشورهای اسلامی باید کمک های مالی بیشتری به افغانستان کنند و ما به این منظور صندوق رشد و توسعه را برای حمایت مالی اردوی ملی افغانستان تاسیس کرده ایم و بدون ادامۀ این کمک ها دولت افغانستان قادر به تمویل و تجهیز نیروهای امنیتی خود نمی باشد.

اظهارات منشی عمومی ناتو در حالی بیان می شود که کشورهای اروپایی علاقمند خروج تدریجی نیروهای شان از افغانستان می باشند، از آن جمله می توان از کشورهای هالند، ایتالیا و انگلیس نام برد و دیگران نیز به تأسی از تعیین ضرب الاجل بارک اوباما، گفته اند که در جریان یکی دو سال آینده، نیروهای شان را از افغانستان خارج می کنند. انگلیس که یکی از بزرگترین کشورهای شرکت کننده در جنگ افغانستان می باشد و پس از ایالات متحده امریکا، بیشترین نیرو را در افغانستان دارد، اعلام کرده که تا پنج سال آینده، نیروهایش را از افغانستان خارج می کند. آلمان، کانادا، پولند و سایرین نیز با اعمال فشار های شدیدی از جانب ملت های شان، از فرستادن نیروهای بیشتر طفره می روند و به نحوی در صدد زمینه سازی برای اخراج عساکر شان از خاک افغانستان هستند.

طرح راسموسن (منشی عمومی ناتو) در شرایطی عنوان میگردد، که قوت روز افزون نیروهای مخالف دولت افغانستان به نمایش گذاشته می شود. و این وضعیت باعث تقویه مورال جنگجویان آنها می شود. کشورهای اسلامی شاید به دو دلیل بر همچو تصمیمی دل خوش نکنند، اول اینکه با عقب نشینی ناتو از افغانستان آنها مدعی برتریت نسبت به ناتو نیستند. ثانیاً اینکه کشورهای اسلامی هر یک به نحوی از انحاء با یکی از جناح های مخالفین دولت رابطه دارند، در صورت سهم‌گیری آنها در جنگ افغانستان، مانند دهه ۹۰ بار دیگر تنش ها و کشمکش های قومی، جناحی و گروهی بنابر تحریک کشورهای همسایه آغاز می گردد و بحران افغانستان ابعاد گسترده تری پیدا خواهد کرد.

محمد خلیل

رأی خرڅول، ایمان خرڅول دي

ګرانو هېوادوالو ته معلومه ده چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د ولسي جرګې د غړیتوب لپاره ټاکنې د وږی په ۲۷ مه نېټه ترسره کیږي، ددغې جرګې د غړیتوب د ترلاسه کولو لپاره د ګران هېواد په ټولو ولایاتو کې زرګونو افغانانو خپل ځانونه کاندید کړي او عملاً یې په کمپاین لاس پورې کړی دی. ښکاره خبره ده چې دغه ټاکنې د افغانانو لپاره ډېر مهم او سرنوشت جوړوونکی رول لري، ولسي جرګه په حقیقت کې د افغانستان د مسلمان ولس د ارادو او آرمانونو ترجمانه او ممثله جرګه ده چې د اولس وکیلان یې ترسره کوي.

په دې کې شک نشته چې ولسي جرګې ته ولاړ ټول کاندیدان د یو فکر او یو نظر خاوندان نه دي بلکې هر یو ځانله ځانله نظریات لري، ځوک د غرب د سیکولر دیموکراسی پلوي دي او ځوک د الحاد او کمونیزم، ځوک د ژبې، نسل، رنګ او سمت پرستی په ناروا تعصب کې اخته دي او ځوک د خپلو ذاتي ګټو په لالچ کې غرق دي. خو الحمدلله د ولسي جرګې په کاندیدانو کې داسې اشخاص هم په ګڼ شمېر کې شتون لري چې هغوی یواځې او یواځې د اسلام د سپیځلي دین په عقیده سنبال دي، دهغوی یواځیني آرمان په هېواد کې د اسلامي نظام او محمدي شریعت نافذول دي، هغوی غواړي چې افغانان د چا د غلامی زنځیرونه په غاړه وانچوي او د یو آزاد ولس په توګه خپلې پریکړې پخپله وکړي. هېوادوال د ظلم او استبداد له فضا نه راوباسي، د بې عدالتی او بې انصافي پر ځای د عدل او انصاف واکمني پلی کړي او افغانانو ترمنځ ورورولی رامنځته کړی.

ددغو نیکو او غوره اشخاصو په لست کې د ننګرهار د ولایت د روداتو د ولسوالی اوسیدونکی ښاغلي ډاکتر عبدالوهاب زهیر هم دی.

ډاکتر عبدالوهاب زهیر د حاجی خوشال خان زوی چې په ۱۳۳۶ کال کې زیږیدلې دی. ابتدائیه، متوسطه او ثانوي زده کړی یې په احداد لیسه کې سرته رسولې دي لوړی زده کړی یې د ننګرهار د طب پوهنځی کې سرته رسولې او تخصص او ماستری یې د بریتانیا د لیور پول له پوهنتونه اخیستې. نوموړی څه موده د روغتیا د وزارت سلاکار هم پاتې شوې چې په دې موده کې یې د پام وړ خدمات ترسره کړي دي.

د ډاکتر عبدالوهاب زهیر هلې ځلې د اسلام د سرلوړی او د افغانستان د آزادي لپاره د روښان لمر په څېر هر چاته څرګندې دي، نوموړي، خپله ځواني د روسي یرغلګرو د اشغال پر خلاف جهاد کې تېره کړیده د خپلو ټپي مجاهدینو د درملنې ترڅنګ د خپلو هغو ناروغو مهاجرو ورونو درملنه هم په پوره اخلاص ترسره کړې چې د پېښور په مختلفو کمپونو کې پراته وو، د هېواد دننه یې د نازیانو، حصار شاهي، کوټ او نورو ګڼو سیمو کې کلینیکونه جوړ او د خپلو ګرانو هېوادوالو په وړیا توګه علاج او درملنه کړی ده.

ډاکتر عبدالوهاب، په اسلام مین، وطندوست، همدرد با اخلاقه او نیک کرداره ملي شخصیت دی. د نوموړې ستر هدف دادی چې په افغانستان کې د یوه پیاوړې او با کفایته مرکزي حکومت له لارې د خپل ګران هېواد او ګران ولس خدمت وکړي.

نوموړي غواړي چې د یو سالم ملي اسلامي حکومت پر مټ د هېواد ټول عواید په کامل شفافیت سره بیت المال کې راجمع او د ګرانو هېوادوالو د خیر ښېګڼې په لاره کې ولګول شي، له بیت المال نه کونډو، رنډو، معلولینو، یتیمو او نورو غرباو ته معاشونه حواله شي تر څو په عزت سره ژوند تیر کړي، د با کفایته مسلکي او ایماندارو دولتي مامورینو د لارې خپل ولس ته معارف، روغتیا، برېښنا، ترانسپورت، سړکونه او نورې بنسټیزې آسانتیاوې برابری کړي، خپل ولس ته د حلالې ګټې د ترلاسه کولو زرائع او وسائل پیدا او نورو هېوادو کې له ذلت نه ډک مزدوری څخه وژغوري.

ډاکتر عبدالوهاب زهیر

ډاکتر زهیر، زړه سواندی، متحمل مزاج او سوله خوښوونکي شخصیت دی، نوموړی د دولت له مخالفینو سره په سوله او مذاکراتو باور لري او د زړه له تل نه غواړي چې ټول افغانان پخپلو کې د وروری په تېغر کیني او خپل مسائل د عقل او منطق په خوږه فضاء کې حل کړي، نوموړی باور لري چې که دولت اجتماعي عدالت پلې کړي او ټولو افغانانو ته په متناسب ډول دولت کې برخه ورکړي نو ډېرې ستونزې به ورسره حل شي. ډاکتر عبدالوهاب زهیر د ننګرهار ولایت د ټولو پرګنو او ولسونو د یووالی غوښتونکې دی او دغه هدف ته د رسیدو لپاره یو لړ عملي ګامونه هم اخستي دي چې د روداتو د ولسوالي د ولسونو ترمنځ یووالې راوستل یې تر ټولو لویه بېلګه ده.

د ننګرهار له شهید پال او مجاهد ولس څخه هیله کېږي چې خپل

د ډاکتر عبدالوهاب زهیر په ملاتړ جوړې شوې غونډې یو انځور

ایماني، افغاني، جهادي او اخلاقي مسؤولیتونو په درکولو سره خپلې رأی د ډاکتر عبدالوهاب په څېر د اسلام پتنګ او یو ښه سابقه لروونکی مجاهد او ولسي خدمتګار ته ورکړي او په دې توګه د افغانستان پارلمان ته داسې وکیلان واستوي چې هغوی د پنځسو لکو شهیدانو، دهغوی وارثینو او رښتینو مسلمانانو ستر ارمان د یوه سوچه اسلامي حکومت په قائمولو ترسره کړي، د ننګرهار مجاهد او پر دین مین ولس دی دا خبره له یاده ونه باسي چې رأی د ولس ستر امانت دی نه ښايي دغه امانت نااهل شخص ته په ورکولو ضایع کړی شي. هر څوک چې خپل رأی خرڅوي او یا هم نااهل ته ورکوي هغه په حقیقت کې خپل ایمان او ضمیر خرڅوي. د لوی الله ددې حکم څخه چې: الله تاسو ته ددې خبرې امر کوي چې امانتونه دهغوی اهلو خلکو ته وسپارئ سرغړونه کوي. داسې خلک له خپل ملت او خاورې سره هم جفا کوي او د الله تعالی له دین سره هم.

ډاکتر عبدالوهاب زهیر د قومي مشرانو سره

راځئ د خپل رأی اهمیت وپېژنو او هغه چاته یې ورکړو چې ددې اهلیت لري. پخپل تبر خپلې پښې ونه وهو او نااهل ته په ورکولو خپله دنیا او آخرت خراب نه کړو.

ولې مو اسلام ومانه؟

ژباړه: عبدالله کامه وال

پخوانی نوم: اسرائیل - اسلامي نوم: اسماعیل

پخوانی مذهب: عیسویت

له اسلام نه د بل چا د اړولو په کوښښ کې پخپله مسلمان شو

د جمعې مبارکه ورځ وه ډېر خلک راغونډ شوي وو، داسلام او اسلامي فرهنګ پر موضوع تقریرونه کیدل. یو کس مې ولید چې په ډېره توجه او غور سره یې غوږ نیولی و.

ما ددغه سړي په باره کې پوښتنه وکړه چې څوک دی؟ یو تن چې هغه یې پیژندو راته وویل: دا سړي پخوا د ساپالو چرچ سرپرست و، هغه وخت دده نوم اسرائیل و چې له مسلمانیدو وروسته یې پر ځان اسماعیل نوم کېښود، نوموړي په اسلامي کنفرانس کې هم ګډون کړی دی او د اسلام ډېر سرګرم داعي دی.

له لمونځ نه وروسته زه دهغه څنګ ته ولاړم او د مسلمانیدو د علت په اړه مې ترینه پوښتنه وکړه هغه د الله تعالی له حمد او ثنا وروسته وویل:

زه یو ورځ په چرچ کې له خپلو نورو ملګرو سره ناست وم، له هغو نه زما یو ملګری ګوښی ته کړم او راته یې وویل زما زوی ګمراه شوی او د اسلام دین یې منلی دی. ما ډېر کوښښ وکړ چې بېرته یې عیسویت ته راواړوم خو هغه یې راسره نه مني، تاسې په دې لړ کې له ماسره مرسته وکړئ، هغه ستا زیات عزت کوي کیدای شي ستا خبره ومني او له اسلامه واوړي، ما ورته ډاډ ورکړ چې زه به هغه خامخا بېرته عیسویت ته را اړوم، زه دهغه پسې شوم هر چېرته به چې هغه تللو زه به ورسره هم تللم، یوه ورځ له هغه سره ساد پالی ته ولاړم چې هلته د مسلمانانو یوه دیني غونډه وه. هغه هلته ماته د مسلمانانو یو کتاب راکړ چې د اسلام ارکان او د مسلمانانو د عقیدی په هکله پکې معلومات لیکل شوي وو، خو هغه زه بالکل متأثر نه کړم. خو د مسلمانانو په څو مذهبي غونډو کې ګډون زه دیته وهڅولم چې د اسلام په اړه معلومات ترلاسه کړم او په پوره غور سره ددې دین مطالعه وکړم، ورځ په ورځ مې له اسلام او مسلمانانو سره مینه زیاتیدله، زما د دوست زوی زما پر مزاج پوه شو، هغه راته ډېر داسې کتابونه راکړل چې د اسلام او عیسویت تقابلی جائزه پکې څیړل شوې و، له هغو نه یو کتاب ډېر مدلل او په زړه پورې و. دا کتاب مې په یوه اونۍ کې په بشپړ غور سره ولوست، کله چې د کتاب له لوستلو خلاص شوم نو ضمیر مې راته وویل رښتیا چې د اسلام دین رښتونی او تر ټولو غوره دین دی. د اسلام دغه حقانیت زه دیته وهڅولم چې نور وخت عبث تیر نه کړم او ژر تر ژره د شهادت کلمه ووایم. ما د شهادت کلمه وویل او د اسلام په دین مشرف شوم.

کله چې عیسویان زما پر اسلام راوړو خبر شول نو هغوی له ماسره هر ډول اړیکی وشلولې او تنخوایی راباندې بنده کړه، هغوی پر ما سخت فشار راوړل چې بېرته عیسوی شم خو الحمدلله بریالی نه شول.

کله چې زما مور زما له مسلمانی نه خبره شوه نو هغه رانه سخته خفه شوه او خبرې اترې راسره بندی کړی، خپل کور او سیمه یې پرېښوده او یو بل ریاست ته لاړه، نورو خپلوانو هم له ماسره اړیکی غوڅې کړې، له مختلفو لارو یې هلې ځلې وکړې چې له اسلام نه مې واړوي خو هغوی هم پخپلو هڅو کې ناکام او ناامیده شول.

ما په ډېره مینه قرآن کریم او نور کتابونه ولوستل، د اسلام په اصل حقیقت مې ځان پوه کړ. په دې وخت ما غوښتل چې زما د کورنی خلک او خپلوان هم اسلامي کتابونه ولولي نو څکه ما به دهغوی کورونو ته کتابونه وړل او د میز په سر به مې ورته پرېښودل کله چې هغوی زما اسلامي اخلاق او رویه ولیدله نو هغوی له مانه متاثره شول او د اسلام منلو ته یې غاړه کېښودله او زما د کورنی شپاړلس تنه د اسلام په دین مشرف شول.

نوموړي له مسلمانیدو نه وروسته د خپلو مالي مشکلاتو په باره کې وویل:

که څه هم په اوس حالت کې زما مالي حالت کمزوری دی، مګر ډېر خوشاله ژوند تیروم په زړه کې مې هیڅ ډول پریشاني نشته الله تعالی چې ماته څه لیکلي دي پر هغه قانع او شکر ادا کوم.

نوموړي وویل:

د شپږو میاشتو په موده کې چې زه څومره په اسلام پوه شوې یم په ټول عمر کې دومره په عیسویت نه ووم پوه شوې څکه چې په عیسویت کې له درواغو کیسو نه پرته بل هیڅ نشته دا ضد نقیض خبری د انسان زړه نه شي مطمئن کولې. ددې برعکس د اسلام دین د عیسویت له دین بالکل جلا دی.

په اسلام کې هېڅوک چاته د جنت ټکټ نه شي ورکولې بلکې هغه ته د الله تعالی پراخ رحمت او مهربانی ور په یادوي، نصیحت ورته کوي چې خپل عمل نیک کړي الله ته توبه وباسي او د بخښنی دعا ترینه وغواړی، لدې سره سره دا هم ورته وايي چې هېڅوک دا نشي ویلی چې په آخرت کې له چاسره څه کیږي؟ مګر په عیسویت کې دا خبری نشته او پادریان خلکو ته د جنت ټکټونه ورکوي په داسې حال کې چې دا د هیچا په وس کې نشته او هېڅوک نشي کولې چې پخپله خوښه جنت ته یوسي.

شهادت اوونیزه

خپروونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنگي څانگه
د امتیاز څښتن: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله کامه وال
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)
داړیکې شمېره ۰۷۰۸۱۹۸۵۸۶
ډیزاین: خواجه وحیدالله
د کتنپلاوي تر څارنې لاندې
آدرس: دحزب اسلامي دفتر
سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه

افغان دولت نژدې ۱۰۰ بندیان خوشې کړل

بي بي سي:
د افغانستان د عدلیې وزارت وايي لسگونه هغه بندیان، چې د جرم کره شواهد یې په اړه نه وو، د پروان او څرخي پله له زندانونو خوشي کړي دي.
دا په تېرو څو اوونیو کې د افغان بندیانو دریمه جوپه ده، چې د افغان حکومت له لوري خوشي کېږي.
چارواکي وايي دا لړۍ به په راتلونکی کې هم روانه وي.
د سولې ملي مشورتې جرگې پرېکړه وکړه، د افغان او بهرنیو خواکونو له زندانونو دې هغه بندیان خوشي شي، چې د ناسمو رپوټونو پر بنسټ نیول شوي دي
د عدلیې وزارت وايي په دې جوپه کې ۱۲ بندیان د پروان له زندانه، او تر ۸۰ ډېر نور د څرخي پله له زندانه خوشي شوي.

په دغو بندیانو کې د افغانستان د بېلابېلو ولایتونو بندیان دي.
د عدلیې وزارت مرستیال محمد قاسم هاشمزی وايي په خوشي شوو کې د حکومت د وسله والو مخالفینو د غړو په گډون بېلابېل کسان شامل دي:
"تر ۹۰ ډېر کسان دي، دې بندیانو کوم ښکاره جرمونه نه لرل او د جریمو له امله په زندانونو کې پاتې شوي ول. د سولې د ملي مشورتي جرگې د پرېکړې پر بنسټ به دا لړۍ دوام ومومي".
افغان چارواکي وايي دوی ته د ورکړل شوو مالوماتو له مخې اوسمهال د بهرنیانو په پوځي توقیف خایونو کې شاوخنوا ۱۰۰۰ تنه بندیان دي، چې ۸۰۰ یې یوازې د کابل په شمال بگرام زندان کې دي.

دوی وايي د افغانستان په زندانونو کې د دولت د مخالفو وسله والو په گډون دا مهال کابو ۱۵ زره بندیان دي، چې بېلابېل جرمونه لري.

در مورد اسناد افشا شده‌ء ...
سخنگوی رییس جمهور کرزی هشدار داد، در صورتی که این پناه گاه ها از بین برده نه شود، صلح و ثبات به منطقه برنه خواهد گشت.
او گفت:
((بار ها خواسته های خود را مطرح کرده ایم و یک بار دیگر نیز این خواسته ها را مطرح می کنیم که مردم افغانستان، حکومت افغانستان، دنیا، و ما فکر می کنیم که مردم و حکومت پاکستان هم این آگاهی را دارند، تا زمانیکه به مراکز تجهیز، تمویل و تربیهء فکری تروریستان در آن سوی مرز افغانستان در داخل پاکستان رسیده گی نه شود، تامین صلح و ثبات در افغانستان نا ممکن است.))
در گذشته نیز در مورد دخیل بودن سازمان استخبارات پاکستان در جنگ افغانستان و سو استفاده آن سازمان از امکانات بین المللی برای کمک به مخالفین دولت افغانستان گزارشهای متعدد منتشرشده است. اما چنین گزارشهای همواره ازسوی مقامات پاکستانی رد گردیده است.
تا اکنون به درستی روشن نیست که افشا شدن این اسناد برای تامین ثبات در افغانستان و یا هم عملکرد های بعدی سازمان استخبارات پاکستان در مسایل وابسته به افغانستان چی تاثیر به جا خواهد گذاشت.

ویکي لیکس پر خپرو ...
موجود دي او دا موضوع د یوې سرچینې له لورې اوازې او نظریې دي.
حقاني مخکې هم په غیر مستقیم ډول ویلي چې په پاکستان کې د اصف علي زرداري د حکومت له واک ته رسېدو وروسته پاکستان د طالبانو له ملاتړه لاس اخیستی او یا یې کم کړی دی.
خو ویکي لیکس ویبپاڼې د یکشنبې په ورځ نژدې دوه نوي زره سندونه خپاره کړل چې اکثره یې له ۲۰۰۴ څخه تر ۲۰۰۹ پورې له افغان طالبانو سره د پاکستان د پوځ او استخباراتو د مستقیم ملاتړاو هغو ته د سلامشورو ښودنه کوي.
د امریکا د دفاع وزارت او نورو ادارو په خینو اسنادو کې ،چې د امریکا د حکومت د غوښتنې خلاف خپاره شوي،په افغانستان کې د امریکایي پوځیانو زورزیاتي هم افشا شوي دي.
په دې اسنادو کې ویل شوي چې پاکستاني پوځیان نه یوازې د امریکایي او افغان ځواکونو د وژلوپه برخه کې له طالبانو سره مرسته کوي بلکې د افغان مشرانو د وژلو پلانونه هم جوړوي.
دا اسناد له طالبانو سره د جنگي سلامشورو لپاره د پاکستان د آی ایس آی د پخواني مشرمتقاعد جنرال حمید گل د کتنې ښودنه هم کوي.
خو حمید گل ، چې تل یې په زغرده د طالبانو ملاتړ کړی ،نن له سي این این سره په مرکه کې په ژړغوني اواز دا راپور رد کړ چې گنې ده له طالبانو سره کتلي دي یا یې مشورې ور کړې دي.
د ویکي لیکس له لوري د ۹۲ زره پټو اسنادو افشا د محرمانه اسنادو د افشا په تاریخ کې تولو لویه پېښه بلل شوې.خو جالبه دا ده چې په دې اسنادو کې دا هم ویل شوي چې امریکایي چارواکو د پاکستان استخباراتي مقاماتو ته اجازه ور کړې چې له طالبانو سره وگوري.
ایران هم د طالبانو ملاتړ کړی
په دغو اسنادو کې د ایران یادونه هم شوې او ویل شوي چې ایرانیانو هم طالبانو ته وسلې او پیسې ور کړې دي.
په یوه سند کې ویل شوي چې ایران اووه تنه طالب مشران خپل هیواد ته وروبلل او هغوی ته

بې وړاندیز وکړ چې د هر افغان عسکر د وژلو په بدل کې به یو لک کلدارې او د هر مامور د وژلو په وړاندې به دوه لکه کلدارې ور کړي.
په یوه بل سند کې ویل شوي چې د افغانستان په ختیځ کې طالبانو د امریکایي پوځیانو پر الوتکې د توغندي برید وکړ ،خو الوتکه ونه لگېده .د الوتکې عمله د دې لپاره چې د دې توغندي نوعیت مالوم کړي ، په هماغه ځای کې کوز شول .پراستعمال شوي توغندي په فارسي ژبه (ساخت ایران) لیکل شوي وو.
افغانستان: موږ تل دا خبرې کړي
د افغانستان حکومت د دغو اسنادو د خپرېدو په وړاندې په خپل عکس العمل کې وویل چې افغانستان تل ویلي وو چې په پاکستان کې د افغان طالبانو د روزنې، تمویل او روزنې مرکزونه شته اود دغه هیواد پوځیان یې ملاتړ کوي.
د کرزي ویندوی وحید عمر وویل چې په دې باب مطالعه کوي خو دی فکر کوي چې د دې اسنادو خپرېدا ښه مالومات په لاس ور کوي.
ده د ملکي افغانانو د تلفاتو په باب د ویکي لیکس له لوري د خپرو شویواسنادو په اړه وویل چې دا هم هغه مسله ده چې د افغانستان حکومت یې په خلونو یادونه کړې ده.
وحید عمر وویل تر هغود افغانستان شخړه نه شي حل کېدای چې په پاکستان کې د تروریستانو خالي او ملاتړ پای ته نه وي رسېدلی.
د امریکا عکس العمل
د امریکا د ملي امنیت سلاکار جېمز جونز په یوه اعلامیه کې وویل :((د امریکا متحدایالتونه د افرادو او موسسو له لوري د هغومحرمانه اسنادو افشا په کلکه غندي چې ممکن د امریکایانو او زموږ د شریکانو ژوند او زموږ ملي امنیت له خطر سره مخامخ کړي.))
جونز وویل چې ویکي لیکس د دغو اسنادو په باب دتماس هیڅ هڅه ونه کړه، دامریکا حکومت له خبري رسنیو خبر شو چې دا اسناد خپرېږي.
ده همداراز وویل د دغو اسنادو غیرمسوولانه خپراوی به د خپل گډ دښمن د خپلو لپاره له افغانستان او پاکستان سره زموږ پرمشارکت اغېز ونه کړي.
د نیویارک تایمز د راپور له مخې په دې اسنادو کې ویل شوي او ښوول شوي پاکستان ،چې په ظاهره له تروریزم سره په جگړه کې د امریکا نژدې متحد دی،د خپلې استخباراتي ادارې استازو ته اجازه ورکوي چې له طالبانو سره مخامخ وگوري.
د جرمني عکس العمل
جرمني نن له طالبانو سره د ایران او پاکستان د مرستې په باب د خپرو شویو اسنادو په باب د ژورې څېړنې غوښتنه وکړه.
د جرمني د بهرنیوچارو وزیر گویدو ویسترویله د اروپایي اتحادیې له وزیرانو سره په خبرو کې وویل :موږ باید دا وگورو چې د ویکي لیکس ویبپاڼې له لوري په زرگونو خپرو شویواسنادو کې نوي مالومات څه دي.
د بریتانیا عکس العمل
د بریتانیا د بهرنیو چارو وزیرویلیم هېگ وویل دی هیله لري چې د دغو اسنادو افشا به په افغانستان کې فضا خرابه نه کړي.ده همداراز وویل :ما تراوسه پورې دا اسناد په تفصیل نه دي لیدلي خو باید نړیوالو هلوځلو ته زیان وانړوي.
د ویکي لیکس د خاوند او موسس څرگندونې د دغو اسناد په وړاندې له زیاتو عکس العملونو وروسته د ویکي لیکس موسس وویل د امریکا د دفاع وزارت په زرگونو افشا شویو اسنادو کې په افغانستان کې د جنگي جنایاتواحتمالي شواهد نغښتي دي

چې باید د هغو په اړه په فوري ډول تحقیقات وشي.
جولیان اسېنج ،چې دا اسناد یې خپاره کړي، امریکایي پوځیان تورن کړل چې د ملکیانو وژنې یې پټې کړي او ډېر اسناد ښیي پر دوی د دا ډول ادعاوو ملاتړ کوي.
ده په عین حال کې وویل چې دا د محکمې کار دی چې په دې هکله فیصله وکړي.

په افغانستان کې تاوتریخ...
امریکا پوځ له هر ډول امکاناتو کار اخلي چې بې درکه شوي پوځیان ومومي.
د امریکا دا دوه عسکر د جمعې په ورځ ناوخته تري تم شول خو وروسته طالبانو وویل چې یو یې وژلی او بل یې ژوندی نیولی چې لا هم له دوی سره دی.
خو د امریکا سمندري خواک ، چې دا دوه سرتېري ورسره تړاو لري، وايي چې دوی خپل دواړه عسکر بې درکه شوي اعلانوي.
د ناټو ترمشرۍ لاندې ایساف خواکونو ویاند د طالبانو د ادعا په باب له تبصرې ډډه وکړه.
د امریکا لوی درستیز په کابل کې خبریالانو ته وویل :څرنگه چې په دوبي کې موږ د خپلو خواکونو او عملیاتوشمېر زیاتوو،نښایي تلفات او تشدد لا زیات شي.

خو ده په عین حال کې وویل چې د تلفاتو له زیاتېدو سره سره ورو مگر ثابت پرمختگ دوام لري چې د کال تر پایه پورې له طالبانو د جگړې ابتکار واخلي.
اډمیرل مولن دا هم وویل چې راتلونکې میاشتې ډېرې مهمې دي.
مولن وویل چې هیڅ خوا خپل برى نه اعلانوي خوپرمختگ لیدل کېږي.زه باور لرم چې بریالیتوب لا هم ترلاسه کېدونکی دی .
د امریکا لوی درستیز مایک مولن وویل هیواد یې له پاکستان سره په دې خبرې کوي چې په خپله خاوره کې د طالبانو مرکزونه ختم کړي:
((موږ به له آی ایس آی او د پاکستان له حکومت سره د کوټې د شبکې او په ځانگړي ډول د حقاني شبکې په باب پر خبرو تمرکز ته دوام ورکړو.دا شبکې د القاعده د ماتولو لپاره هلې ځلې له ځنډ او ځنډ سره مخامخوي.))
هغه دا خبرې په داسې حال کې وکړې چې د نیویارک تایمز د راپور له مخې د ویکي لیکس له لوري په خپرو شویو اسنادو کې ویل شوي او ښوول شوي پاکستان ،چې په ظاهره له تروریزم سره په جگړه کې د امریکا نژدې متحد دی،د خپلې استخباراتي اداري استازو ته اجازه ورکوي چې له طالبانو سره مخامخ وگوري.
د سپینې ماڼۍ مقاماتو وویل چې امریکا دیکشنبې په ورځ دهغو اسنادو خپراوی وغانده چې له ادعا سره سم پکې ښوول شوي چې دپاکستان استخبارات د افغان طالبانو لارښوونه کوي.

شرکت های خصوصی از ...
تاثیر منفی بالای سرمایه گذاری در افغانستان می گذارد. او گفت:
((در عرصهء اقتصادی تا وقتیکه دولت شرکت دارد و در مارکیت مداخله و رقابت منفی می کند، این عمل زمینهء جذب سرمایه گذاری ها را از بین می برد. تمام سرمایه گذاران را که می خواهند در افغانستان سرمایه گذاری کنند، دل سرد می سازد. این یک پیام منفی برای تمام سرمایه گذاران داخلی و خارجی می باشد.))
آقای حقجو گفت، با آن که اخیراً در داوطلبی، شرکت خصوصی هوایی پامیر در میان سایر شرکت های هوایی برنده اعلام شده بود، شرکت هوایی آریانا موظف شده تا در سال جاری زایرین

حج را به عربستان سعودی انتقال بدهد.
در همین حال وحید عمر سخنگوی ریاست جمهوری افغانستان می گوید که در اجلاس شورای وزیران تصمیم گرفته شده، صرف آن شرکت های خصوصی از پروسهء امسال حج بیرون ساخته شوند که پارسال وظایف خود را به درستی انجام نه داده بودند.
آقای عمر افزود:
((تصمیم کابینهء افغانستان این نیست که شرکت های خصوصی نمی توانند حجاج را از طریق سکتور خصوصی انتقال دهند. فیصلهء کابینه افغانستان این است، شرکت های که سال گذشته کارکرد خوب نه داشته اند و یا هم در فساد مالی و اداری آغشته بوده اند، و یا هم حجاج افغان از آنها شکایت دارند، امسال نمی توانند در این پروسه سهم بگیرند. شریک ساختن شرکت آریانا و شرکت های دیگر در این کار، تصمیمی است که بعداً اتخاذ خواهد شد. اما این به این معنی نیست که شرکت های خصوصی هوایی نه توانند حجاج را انتقال دهند.))
پروسهء انتقال حجاج افغان به عربستان سعودی در سال های اخیر با مشکلات زیاد در افغانستان به همرا بوده است، حتی دو سال قبل حمیدالله قادری وزیر ترانسپورت و هوانوردی به دلیل آن چه سهل انگاری در انتقال به موقع زایرین حج خوانده شد، از سمت اش بر کنار گردید.
حکومت افغانستان سال گذشته به شرکت های خصوصی سیاحتی نیز سهمیه داده بود تا افغان های را که در مراسم حج اشتراک می کنند به عربستان سعودی انتقال دهند.
در کنار وزارت حج و اوقاف، از شرکت های سیاحتی نیز سال قبل شکایات و انتقاداتی صورت گرفت که خدمات بهتر را به حجاج افغان عرضه نه کرده اند.
اما وزارت حج و اوقاف افغانستان اعلام کرده است که تلاش می کند تا سهولت های لازم را برای ۳۰ هزار افغان که امسال به هدف شرکت در مراسم حج به عربستان سعودی می روند، فراهم نماید.

افغانستان د نړیوالو ورځپاڼو ...
افغانستان او سیمې په اړه تحلیل کړی دی. په پیل کې یې راغلي دي:
د افغانستان او پاکستان وروستی اقدام چې خپلې اړیکې سموي، د سیمې په نورو هېوادونو کې اندېښنې زیاتې کړې دي او د دې باعث شوي چې خینې هېوادونه د ولسمشر حامد کرزي له سیاسي مخالفو کړیو سره د اړیکو پر پراخولو غور وکړي.
واشنگټن پوسټ زیاتوي، د امریکا حکومت په دې نظر دی چې د افغانستان او پاکستان اقدامات په دواړو هېوادونو کې له سخت دریځو سره د مبارزې لپاره ضروري دي، خو هند، ایران او د افغانستان شمالي گاونډي وېره لري چې دا د ولسمشر حامد کرزي د هغې غوښتنې د سرته رسولو لپاره نوي گامونه دي چې غواړي له طالب مشرانو سره خبرې وکړي او ممکن په حکومت کې یې راشریک کړي.
ورځپاڼه د لیکنې په دوام زیاتوي، دا وېره د هند ځینو عالي رتبه چارواکو په خپلو وروستیو مرکو کې څرگنده کړه. ورځپاڼه لیکي، دا د امریکا حکومت ته لوی چیلنج دی، چې غواړي د افغانستان د باثباته کولو لپاره د نوښتونو ملاتړ وکړي. ورځپاڼه په دې باور ده چې امریکا دغه راز غواړي د هند او پاکستان په اړیکو کې کړکېچ راکم کړي.
واشنگټن پوسټ د یوه لوېدیځ ډیپلومات له قوله لیکي، چې هندیان اندېښنه لري، د دې ډیپلومات په خبره، هند له افغانستان سره تر یوه ملیارد ډالرو زیاته مرسته کړې. د نوموړي په خبره خو اوس په افغانستان کې پاکستان د هند تیاره گوله تر ستونې تېروي.

بریتانیا د کابل کنفرانس له پرېکړو ...
په کابل کې د بریتانیې سفیر ویلیم پېټي د سې شنبې په ورځ په یوه خبري کنفرانس کې وویل چې افغان حکومت د اداري فساد په وړاندې تېنگه مبارزه پیل کړې او نړیواله ټولنه په دې برخه کې ورسره هر اړخیزه مرسته کوي.
د ښاغلي پېټي په خبره دوی او نړیواله ټولنه د افغان حکومت له لارې د نړیوالو مرستو د نیمايي برخې د لگولو لپاره د شفافیت ترڅنگ ځینې نور مهم شرایط هم لري خو تر ډېره اوس ډاډه دي چې دا مرستې به افغان دولت په ښه توگه مصرف کړي:
"ما د مالیې له وزیر سره پرون د شفافیت د رامنځ ته کولو لپاره د دوی د پلان په اړه خبرې وکړې. موږ ډاډمن یو چې همدا سې به وشي. موږ په دې باور یو چې د افغانستان د ښې راتلونکې لپاره به دا مناسبه وي چې زموږ مرستې د افغان دولت له لارې ولگېږي. دا هغه څه دي چې د افغانستان خلک یې غواړي او دا زموږ هدف هم دی."

دا په داسې حال کې ده چې افغان حکومتي چارواکي وايي چې تر اوسه له نړیوالو مرستو څخه یوازې په سلو کې شل دوی ته ورکړل شوي او پاتې اتیا فیصده یې په دې هېواد کې د نړیوالو موسسو له خوا لگول شوي دي.
په کابل کې د بریتانیې سفیر وویل، چې د افغان دولت له خوا د کابل په نړیوال کنفرانس کې د دې هېواد د پراختیا او ودې لپاره وړاندې شوې طرحې مهمې وې او بریتانیا ورڅخه په تېنگه ملاتړاو د عملي کېدو لپاره بې له افغان حکومت سره همکاري کوي.
ویلیم پېټي څرگنده کړه چې افغان ځواکونه ډېر پیاوړي شوي او دوی به له نړیوالې ټولنې سره د دې ځواکونو د لا پیاوړي کولو او تجهیزولو لپاره خپلو مرستو ته دوام ورکړي ترڅو وتوانېږي څلور کاله وروسته په افغانستان کې د امنیت ساتنې مسوولیت په بشپړه توگه واخلي:
"د امنیت سپارل خو اوس ممکن نه دي، زه فکر کوم چې په دې برخه کې افغان ملي ځواکونو پیاوړي کېدو ته اړتیا ده، تر څو تر ۲۰۱۴ کال پورې په ټول هېواد کې د امنیت د مسئولیت اخیستلو جوگه شي.
زه فکر کوم چې د ۲۰۱۴ کال د نېټې ټاکنه پر واقعیت ولاړه ده، دې ته په خپله افغانان ډېر ژمن دي، همدا راز د نړیوالې ټولنې ژمنه هم ورسره چې له پروسې نه ملاتړ وکړي."
د افغان حکومت په دولتي ادارو باندې د ډېر فساد د موجودیت له امله زیات انتقادونه کېږي او همدې ستونزې ته په کتو سره ویل کېږي چې افغان دولت نه شي کولای د نړیوالو مرستو په سلو کې پنځوس په پوره شفافیت د بیارغونې په برخه کې ولگوي.
افغان حکومت هم په دولتي ادارو کې د فساد له موجودیت څخه سترگې نه پټوي خو وايي چې فساد تر ډېره خلکو ته د خدمتونو په وړاندې کولو کې دی نه د نړیوالو مرستو د لگولو په برخه کې.
حکومتي چارواکي دغه راز وايي، چې ډېر فساد په هغو مرستو کې دی چې نړیواله ټولنه یې د نړیوالو موسسو له لارې په افغانستان کې مصرفوي او هیڅ ډول حساب هم ورڅخه نه اخیستل کېږي.